هفته واره رساله

د امیرِ اهلسنّت د کتاب "د خبرو اترو آداب" نه پینځم قِسط

# د ژبې د حفاظت اهميت

- د سختۍ، ګرمۍ، روژه برداشت خو
- په رزق کښې د کمۍ يوه وجه
- د جهالت 6 نخښې
- 5 بهترين نصيحتونه


شيخ طريقت، امير اهلِ سنت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال

محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العاليه

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ط
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# د ژبې د حفاظت اَهمیت [1]

دُعائے عطّار: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله " د ژبې د حفاظت اَهمیت " ولولي یا واورې هغه د ژبې او د دې نه علاوه د ټولو ګناهونو نه بچ کړې، خپل خوښ بنده یې جوړ کړې او هغه سره د مور او پلاره بے حسابه وبخښي۔ اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د اخرې نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " اے خلقو! بے شکه د قیامت په ورځ به د هغې د وحشتونو او د حساب کتاب نه زر نجات حاصلوونکے هغه کس وي چا چې په تاسو کښې په ما باندې په دُنیا کښې ډیر درود شریف لوستلې وي۔ (الفردوس بمأثور الخطاب، 277/5، حدیث:8175)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

[1] ... دا مضمون د امیر اهل سُنَّت دامت بَرَکَاتُہُمُ العالیه د کتاب " د خبرو کولو آداب" د صفحه 67 نه 80 پورې اخستے شوے دے۔

## الله پاک ته د ژبې د تېز والي شکايت

د مسلمانانو دوېم خليفه حضرت سَيِّدُنا عمر فاروق اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وليدل چې د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت سَيِّدُنا ابو بکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خپله ژبه مبارکه په ګوتو کښې نيولې ده او راکاږي يې، وپوښتلے شو چې اے د رسول نائبه! تاسو دا څۀ کوئ؟ صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائيل چې دې زۀ د تباهۍ ځايونو ته بوتلے يم، حضور اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: "پۀ بدن کښې داسې يو اندام هم نشته کوم چې الله پاک ته د ژبې د تېز والي شکايت نۀ کوي-" (احياء العلوم، 135/3۔ احياء العلوم (اردو)، 335/3)

## مونږ د ژبې نه بهر مۀ اوباسه

تاسو وکتل چې د مسلمانانو وړومبے خليفه حضرت ابوبکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ کوم چې بخښلے شوے صحابي دے د ژبې د افتونو نه ډېر وېرېدلو، يقيناً چې پۀ دې کښې زمونږ د پاره ډېر نصيحت دے، ځکه چې زمونږ خو چې پۀ زړۀ کښې څۀ راځي هغه پۀ خُله وايو- حضرت سَيِّدُنا اِمام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ ليکلي دي چې: ډېرې خبرې داسې وي کومې چې خبرې کوونکې ګس ته وائي: "مونږه د ژبې نه بهر مۀ اوباسه-"

(منهاج العابدين (اردو) ص: 145، منهاج العابدين: ص: 66)

## ژبه په قېد کښې ساتل کول پکار ده

د عربی مقوله (یعنې متل) دے: مَاشَیْءٌ اَحَقَّ بِطُوْلِ السِّجْنِ مِنَ اللِّسَانِ ”یو څیز هم د ژبې نه زیات په قېد کښې د ساتلو حقدار نۀ شته۔“

(منهاج العابدين (اردو) ص210، منهاج العابدين، ص: 96)

## د ژبې د حفاظت سره په عبادت باندې اِستقامت مېلاوېږي

په 7 عابدانو (یعنې عبادت کوونکو) کښې یو عابِد (یعنې عبادت کوونکي) د (اللّٰه پاک د خوږ نبي) حضرت یونس عَلَیْہِ السَّلَام په خدمت کښې عرض اوکړو چې: کوم خلق چې په پوره کوشش سره په عبادت کښې مشغول وي هغوئي ته چې په عبادت باندې کوم اِستقامت نصیب کیږي هغه د ژبې په پوره توګه د حفاظت کولو نتیجه ده۔ بیا هُغه عبادت کوونکي عرض اوکړو: ستاسو په نزد هیڅ یو څیز د ژبې د حفاظت نه زیات خوښ نۀ دے پکار ځکه چې زړۀ د هر قسمه وسوسو نه د پاک ساتلو ذریعه هم دغه ده۔ (منهاج العابدين (اردو) ص: 210، منهاج العابدين، ص: 96 تا 97)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په فضول خبره خپل ځان له سزا (واقعه)

حضرت سَیِّدُنا مالِک بن ضیغَم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: چې زما والد صاحب

ووئيل چې حضرت قيسي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه زمونږ خوا له د مازيګر نه پس تشريف راوړلو او زما د والد صاحب په باره کښې يې پوښتنه اوکړه: مونږ ووئيل: ”هغوئي اودۀ دي-“ حضرت قيسي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه وفرمائيل: ” آيا هغه د مازيګر (د نمانځه) نه پس اودۀ دے؟ دا وخت؟ آيا دا د اودۀ کېدو وخت دے؟ بيا قيسي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه تشريف يوړلو- مونږ يو ګس پۀ هغوئي پسې ولېږلو چې تاسو راشئ! مونږ به هغوئي ستاسو د پاره راپاڅوؤ- هُغه ګس د ماښام نه پس راغلو نو مونږ ترې پوښتنه اوکړه: آيا تا هغوئي ته پېغام رسولے وو؟ وه يې وئيل: هغوئي پۀ خپل ځان کښې دومره مصروفه وو چې زما خبرې ته يې هډو پام اونکړو، ما هغوئي وليدلو چې هديرې ته داخلېدلو او خپل ځان يې ملامته کولو (يعنې رټلو) او دا يې وئيل: ”بنده چې کله هم وغواړي نو اودۀ کيږي دې، تا دا ولې ووئيل چې دا د اودۀ کېدو کوم وخت دے! تا له فضول پوښتنه نۀ وه کول پکار، اوس زۀ د الله پاک سره لوظ کووم او دا به چرې هم نۀ ماتووم چې زۀ به تا پوره يو کال چرې هم خوب ته پرې نږدم-“ چې ما دا خبره واورېدله نو هغوئي مې پرېښودل او واپس راغلم-

(اللہ والوں کی باتیں، ج: 6، ص: 269 تا 270)

سُبۡحٰنَ الله! يو خوا زمونږ د دِين د بزرګانو دا عمل دے او افسوس! بل خوا زمونږ خراب حالت چې د بے ځايه اعتراضونو، فضول تنقيدونو او د غير

ضرورې پوښتنو نه نۀ وزګارېږو- کاش! زمونږ ژبو ته د واکو اچولو څۀ ذریعه جوړه شي-

## د سختې ګرمۍ روژه برداشت خو ---

حضرت یونس بن عُبید رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه (د عاجزۍ پۀ توګه) فرمائي: زما نفس (د عراق د ښار) بصرې پۀ ګرمۍ کښې د روژې نیولو تکلیف خو برادشت کولے شي خو پۀ فضول خبرو کښې د یو لفظ پرېښودو طاقت هم نۀ لري-

(منهاج العابدین (اردو) ص: 141، منهاج العابدین، ص: 64)

## ژبه د حفاظت زیاته حقداره ده

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! یقیناً چې د شرم ګاه د ګناهونو نه حفاظت نۀ کول هم سخته ګناه او حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے او واقعي پۀ ښه وئیلو کښې ښه والے او پۀ بد وئیلو کښې بد والے دے- ژبه به پۀ محشر کښې کېدے شي چې لوئي لوئي خلق راګېر کړي- د دې د حفاظت ډېر ضرورت دے- تابعي بزرګ حضرت سَیِّدُنا ابو حازِم رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: مؤمِن له پکار دي چې د خپلې شرم ګاه نه زیات د ژبې حفاظت اوکړي- (الله والوں کی باتیں، ج: 3، ص: 331، حلیة الاولیاء ج: 3، ص: 267، قول نمبر: 3909)

## رزق کښې د کمي یوه وجه

حضرت مالِک بن دینار رَحۡمَةُاللّٰهِعَلَيۡه فرمائي: چې کله تاسو پۀ خپل زړۀ

کښې سختي، په بدن کښې کمزورې او په رزق کښې کمے ووينئ نو پوهه شئ چې تاسو ضرور څه فضول خبره د خُلې نه ويستې ده-

(منهاج العابدين ص: 65، منهاج العابدين (اردو) ص: 142)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## الله پاک ټولې خبرې اورې

حضرت سَيِّدُنا بِشر حافي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به ډيرې کمې خبرې کولې او خپلو دوستانو ته به يې فرمائيل: " تاسو غور اوکړئ چې په خپلو اعمال نامو کښې څه ليکئ، ځکه چې هغه به ستاسو رَبِّ کريم ته وړاندې کولے شي- نو څوک چې بدې خبرې کوي په هغوئي افسوس دے، که چرې تاسو خپل دوست ته څه ليکئ او په هغې کښې غلط الفاظ وليکئ نو دا به د هغهٔ سره ستاسو بے حيائي ګڼلے شي بيا د الله پاک سره ستا څه معامله ده؟"

(تنبيهُ المغترين، ص: 190)

## که چرې په فضول خبرو پيسې ورکول وو نو بيا؟

حضرت مالِک بن دينار رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: "ستاسو عملونه ليکونکې فرښتې که چرې ستاسو نه هره ورځ د دغه صحيفو (کتابونو) قيمت اوغواړي په کومو کښې چې ستاسو عملونه ليکې نو (د پيسو بچ کولو په خاطر به) تاسو فضول خبرې پرېږدئ، خو د دې معلومېدو باوجود چې

(ستاسو د فضول خبرو نه ډک ) دغه کتابونه ستاسو د ربِّ پاک پۀ بارگاهِ عالي کښې وړاندې کېدل دي نو تاسو د فضول خبرو نه خپل ځان‌ونه ولې نۀ منع کوئ؟ " (ابن عساكر، ج: 56، ص: 418)

## هره خبره فرښتې ليکي

عزت مند شخصيات چې کله مخامخ وي يا کله د دنيا حکمرانانو ته مخامخ کېدل وي نو ژبه ښه سمبړي، خو د دې معلومېدو باوجود چې د عزت والا فرښتې هره خبره ليکي بيا هم پته نۀ لګي چې د بے شرمۍ او بے حيايۍ خبرې خلق ولې کوي! پۀ ژبه کنځلې وغېره ښنګه راځي! حضرت اِمام حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي چې پۀ انسان حېرانتيا ده چې کِراماً کاتِبين (يعني عزت والا، ليکونکې فرښتې) د هغۀ سره دي او د دۀ ژبه د هغوئې قلم، او د دۀ لاړې د هغوئې سياهي، بيا هم هغوئې بېهوده کلام (يعني فضول او ګنده خبرې) کوي- (تنبيهُ المغترين، ص: 190)

الٰہی! بُری گفتگو سے بچانا مِری یاوَہ گوئی کی عادت مٹانا

د "یاوَہ گوئی" معنیٰ ده: فضول خبرې کول-

## د فضول خبرو پۀ باره کښې يوه واقعه

حضرت ابو عُبيد رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه بيانوي: چې مونږ د حضرت محمد بن سُوقَه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پۀ خدمت کښې حاضر شو نو هغوئې وفرمائيل: آيا زۀ تاسو

ته يوه داسې خبره اونکړم کومې چې ماته فائده راکړي ده او کيدے شي چې هغه تاسو ته هم فائده درکړي؟ يو ځل حضرت عطاء بن ابو رَباح رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه وفرمائيل: اے ورارهٔ! ستا نه مخکښې تير شوۇ خلقو به فضول خبرې نهٔ خوښولې، هغوئي به د قرآنِ کريم تلاوت ، د نيکۍ حکم ورکولو، د بدو نه منع کول او د ضروري خبرو نه علاوه هر قسمه تولې خبرې پهٔ " فضول خبرو " کښې شميرلې- آيا تاسو د الله پاک د دې فرامينو نه انکار کوئ؟ (لکه څنګه چې ارشاد دے:)

وَ اِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ﴿۱۰﴾ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ ﴿۱۱﴾

(پ30، سورۀالانفطار:1011)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه پهٔ تاسو ضرور ځارنه کوونکي مقرر دي- معزز ليکونکي-

(پهٔ يو بل ځائے کښې ارشاد دے:)

عَنِ الْيَمِيْنِ وَ عَنِ الشِّمَالِ قَعِيْدٌ ﴿۱۷﴾ مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿۱۸﴾

(پ26، سورۀق:1718)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: يو ښي طرف ته او بل ګڅ طرف ته ناست دے- هغه د ژبې نه يوه خبره هم نهٔ اوباسي مګر دا چې يوه محافظه فرښته هغۀ ته تياره ناسته وي-

آيا پهٔ تاسو کښې چا له شرم نهٔ ورځي چې د هغۀ د تولې ورځې عمل نامه د هغۀ مخې ته پرانستے شي نو اکثر به پهٔ هغې کښې هُغه څيزونه ووينې

د کومو تعلق چې به نۀ د دین سره وي او نۀ د دنیا سره۔

(الله والوں کی باتیں ج: 3، ص: 440)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د 7 مدني ګلونو فاروقي ګلدسته

د مسلمانانو دويم خليفه، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي:

﴿1﴾ د فضول خبرو نه بچ کېدونکي ته حکمت او دانائي عطا کيږي۔ ﴿2﴾ فضول کتل يعني بغېر د څۀ ضرورت نه د اخوا ديخوا کتلو يا هيڅې بې هيڅه د مختلفو څيزونو يا د قسما قسم نظارو کتو نه بچ کېدونکې ته خُشوعِ قلب (يعني د زړۀ خشوع) ورکولے شي۔ ﴿3﴾ د فضول خوراک (يعني د بے ضرورته خوراک يا صرف د خوند د پاره د قسما قسم څيزونو خوړلو) پرېښودونکې ته پۀ عبادت کښې مزه ورکولے شي۔ ﴿4﴾ د فضول خندا نه بچ کېدونکې ته رُعب او دبدبه ورکولے شي۔ ﴿5﴾ د ټوقو ټقالو نه بچ کېدونکې ته د ايمان نور نصيب کيږي۔ ﴿6﴾ د دنيا د محبت نه بچ کېدونکي ته د اخرت محبت ورکولے شي۔ ﴿7﴾ د نورو د عېبونو لټولو نه بچ کېدونکې ته د خپلو عېبونو د اصلاح توفيق مېلاوېږي۔

(المنبهات، ص: 89 تا 90 ماخوذاً)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د فضول خبرو حساب به ډېر اوږد وي

بيان کړے شوي دي چې: اِيَّاكَ وَالْفُضُوْلَ فَاِنَّ حِسَابَهٗ يَطُوْلُ يعنې د فضول خبرو نه ځان بچ ساتئ! ځکه چې د دې حساب به اوږد وي-

(منهاج العابدين، ص: 67. منهاج العابدين (اردو) ص: 147)

## مهٔ خبرې کوه او مهٔ پهٔ مصيبت کښې راګېرېږه

يو بل بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

اِحْفَظْ لِسَانَكَ لَاتَقُوْلُ فَتُبْتَلَى اِنَّ الْبَلَاءَ مُوَكَّلٌ بِالْمَنْطِقِ

**ترجمه:** د خپلې ژبې حفاظت کوه، مهٔ خبرې کوه او مهٔ پهٔ مصيبت کښې راګېرېږه، بے شکه مصيبتونه د خبرو سره تړلے شوي دي-

(منهاج العابدين، ص: 66)

## د خبرو کوونکي د عقل اندازه کيږي

حضرت عبد الله ابنِ مُبارَک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:

﴿1﴾ اَلَا اِحْفَظْ لِسَانَكَ اِنَّ اللِّسَانَ سَرِيْعٌ اِلَى الْمَرْءِ فِيْ قَتْلِهِ

﴿2﴾ وَاِنَّ اللِّسَانَ دَلِيْلُ الْفُؤَادِ يَدُلُّ الرِّجَالَ عَلٰى عَقْلِهِ

﴿1﴾ د خپلې ژبې حفاظت کوئ ځکه چې دا معمولي شان اندام ډېر زر انسان پهٔ هلاکت کښې غورځوي-

﴿2﴾ بے شکه ژبه د انسان پهٔ زړهٔ باندې دليل دے کومه چې د خبرو کوونکې د عقل اندازه ښائي- (منهاج العابدين، ص: 66، منهاج العابدين (اردو) ص: 144)

## بازارې خبرې کوونکي ته نصيحت

شيخ افضلُ الدين رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه يو کَس پهٔ بازارې خبرو کولو واورېدو نو ارشاد يې وفرمائيلو: اے ورورہ! الله پاک د بنده غوږونه او ژبه جوړه کړه چې ښهٔ پرې واورې او ښه پرې ووائې، قرآنِ کريم، حديثِ پاک، اَذان او د اِمام تکبيرِ تَحريمه او څوک چې تاته نصيحت کوي د هغهٔ نصيحت اوره، او ژبه او غوږونه د تېوقو تقالو، غيبت، بهتان، دروغو، چغلۍ او بے کاره خبرو اورېدو د پاره نهٔ دي پېدا کړے شوي- اے ورورہ د غوږونو او ژبې د بے مقصده استعمال نه ډډه اوکړه، دا سراسر نقصان دے او که چرې د ژبې د تېزۍ پهٔ وجه څهٔ (د ګناه ډکه) خبره د [د خُلې نه] ووځي نو فوراً توبه او اِستِغفار کوه- (المنن الکبریٰ، ص: 547)

## دعوتِ اِسلامي نـمونځ ګزاره جوړه کړه

اَلۡحَمۡدُلِله! د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول د اِسلامي ورونړو سره سره د اِسلامي خوئېندو د پاره هم ګټه ور دے- د ډسکه (پنجاب) يوې اِسلامي خور د عامو جينکو پهٔ شان ناجائزه فېشن کولو او د نـمونځونو نه به ډېره لرې اوسېدله- بيا هغه د خپل ماما د انتظام لاندې ديني مدرسې ته د زدکړې

د پاره لاړه ، چرته چې د دعوتِ اِسلامي سره تعلق لرونکې اِسلامي خوئېندې د هفته وارې سنتو ډکې اجتماع دعوت ورکولو د پاره راغلې د کومې پهٔ نتیجه کښې چې هغه هم د خپلو ملګرو پهٔ وینا د اِسلامي خوئېندو اجتماع کښې شریکه شوه- هلته یې د سنتو نه ډک بیان واورېدو، د زړا نه ډکې اجتماعې دعا پهٔ هغې اثر اوکړو او هغې د ګناهونو نه توبه وکړه- د دعوتِ اِسلامي د دیني ماحول سره د تړون نه پس یوه ورځ هغه راغله چې هغې د "اِسلامي خوئېندو د 12 ورځو مدني کارونو کورس" (کوم ته چې اوس دیني کارونو کورس وئیلے شي) هم اوکړو- د هغې د دعوتِ اِسلامي داسې برکتونه نصیب شول چې د فرضو نـمونځونو ادا کولو سره سره یې نفلونه هم ادا کول شروع کړه- د هغې جذبه ده چې پهٔ خپل کلي کښې به ښځهٔ دیني کارونه کوي او چې څومره ساه ګانې یې پاتې دي د عاشقانِ رسول دیني تحریک، "دعوتِ اِسلامي" سره به تړون ساتي-

پلا کر مئے عشق دے گا بنا یہ
تمھیں عاشقِ مصطفٰے مَدنی ماحول

اے اسلامی بہنو! تمہارے لئے بھی
سُنو ہے بہت کام کا مَدنی ماحول

(وسائلِ بخشش، ص: 648)

## ژبه ګویا د حملې د پاره تیار ازمرے

حضرت سَیِّدُنا ابن ابي مطیع رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي:

﴿1﴾ لِسَانُ الْمَرْءِ لَيْثٌ فِيْ كَمِيْنٍ اِذَا خَلَّى اِلَيْهِ لَهُ اِغَارَهْ

﴿2﴾ فَصُنْهُ عَنِ الْخَنَا بِلِجَامِ صَمْتٍ يَكُنْ لَكَ مِنْ بَلِيَّاتٍ سِتَارَهْ

﴿1﴾ ژبه (پهٔ تباه کولو کښې) د ځملې کولو د پاره د پټ ناست ازمرې پهٔ شان ده کومه چې د موقعې مېلاؤېدو سره تباهي خوروي- ﴿2﴾ څکه دې (يعنې ژبې) ته د خاموشۍ پهٔ واګو اچولو دا د فضولياتو نه بچ کړئ، داسې به تاسو د ډېرو افتونو نه بچ شئ- (منهاج العابدين، ص: 66، منهاج العابدين (اردو) ص: 145)

## ماتوونکے څناور

يو قرېشي بزرګ رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د يو عالم صاحب نه پوښتنه اوکړے شوه تاسو خاموشه ولې اوسېږئ؟ وه يې فرمائيل: ما خپله ژبه د ماتوونکې څناور پهٔ شان موندلې ده، زما سره وېره ده که چرې زهٔ ادا پرانستې پرېږدمه نو ما به وخوري- (ايک چپ سو سکھ (خاموشی کے فضائل) ص: 21)

## د مال حفاظت اسان دے خو د ژبې ---

دولت انسان پهٔ صندوق کښې د بندولو سره محفوظ ساتلے شي- که غټه خزانه وي نو د وسله والو څوکيدارانو کښېنولو سره يې هم حفاظت کېدے شي، خو کمال خو دا دے چې څوک د خپلې ژبې پهٔ حفاظت کولو کښې کامياب شي- حضرت محمد بن واسِع رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حضرت مالِک بن دينار

رَحْمَةُ اللہِ عَلَیْہ ته وفرمائيل: "د انسان د پاره د ژبې حفاظت د مال د حفاظت نه هم ګران دے۔" (اتحافُ السادۃ ج:9، ص:144)

د خپل مال د حفاظت په معامله کښې عام طور هر يو هوښيار وي، حالانکې که مال ضائع هم شو نو صرف د دنيا نقصان دے۔ خو ډېر افسوس چې اوس د ژبې د حفاظت سوچ ډېر کم پاتې شوے دے، يقيناً چې د ژبې د حفاظت نۀ کولو په وجه د دنيا د نقصان سره سره د اخرت د بربادۍ هم پوره پوره امکان دے۔

بَک بَک کی یہ عادت نہ سرِ حشر پھنسا دے
اللہ زَبان کا ہو عطا قُفلِ مدینہ

(وسائلِ بخشش، ص:93)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عاشقانو 6 نخښې

وئيلے کيږي:

عاشِقاں را شش نِشاں سَت اے پِسر
آہِ سَر دو رنگ زَرد و چشمِ تر
گر تُرا پُرسَند سِہ دیگر کُدام؟
کم خُورَد، کم گُفتَن و خُفتَن حرام

ترجمه: ” د عاشِق “ دا شپږ نخښې دي: ﴿1﴾ ساړهٔ اسویلي ﴿2﴾ د مخ رنګ زیَړېدل ﴿3﴾ د اوښکو ډکې سترګې ﴿4﴾ کم خوراک ﴿5﴾ کمې خبرې او ﴿6﴾ کم خوب-

## د جهالت 6 نخښې

پهٔ هره خبره غصه کېدل، بق بق کول، فضول خرچي کول، ټولو ته د راز خبرې کول، پهٔ هر چا اعتماد کول، د غلط صحبت نه نهٔ بچ کېدل او ښه صحبت نهٔ اختیارول، دا ټولې د جهالت نخښې دي- یو عقلمند ګس وائي شپږ خبرې داسې دي پهٔ کومو چې جاهل پېژندلے شي: ﴿1﴾ د غصې پهٔ وخت- یعنې د مزاج خلاف پهٔ هره خبره غصه کېدل که هغه د یو انسان د طرف نه راغلې ته شي یا د ځناور وغیره پهٔ وجه- ﴿2﴾ بے کاره خبرې- ځکه عقلمند له پکار دي چې بے فائدې خبرې نهٔ کوي، بلکې هغهٔ له ګټه ورې خبرې کول پکار دي، که هغه د دنیا د فائدې وي او که د اخرت د فائدې- ﴿3﴾ فضول خرچي کول- یعنې دا هم د جهالت نخښه ده چې مال پهٔ داسې ځائے کښې ولګولے شي پهٔ کومې چې نهٔ څهٔ اجر میلاؤېږي او نهٔ څهٔ فائده حاصلیږي- ﴿4﴾ د هر چا سره د راز خبرې کول- ﴿5﴾ پهٔ هر چا باور کول- ﴿6﴾ پهٔ دوست او دښمن کښې فرق نشي کولے، یعنې مناسبه خو دا ده چې انسان خپل دوست (یعنې نېک خلق) وپېژني او د هغوئي

پهٔ شان عملونه اوکړي، او د هغوئي پهٔ لاره روان شي او دښمن (يعني بد خلق) وپيژني او د هغوئي نه د بچ کيدو کوشش اوکړي او يقيناً د انسان ورومبے دښمن خو شيطان دے، ځکه پهٔ يوه خبره کښې هم د شيطان نهٔ اوري (او د هر قسمه ګناه نه ځان ساتي)- (تنبيه الغافلين، ص: 115 ملخصاً)

## د فالتو خبرو شلور خطرناک نقصانونه

حضرت اِمام ابو حامد محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پهٔ دې شلورو وجو د فضول خبرو غندنه (يعني مذمت ) کړې ده: ﴿1﴾ فضول خبرې کِراماً کاتِبين (يعني اعمالليکونکې عزت مندې فرښتې) ليکې ، ځکه انسان له پکار دي چې د هغوئي نه شرم اوکړي او د دغه فضول خبرو ليکلو زحمت (يعني تکليف) نهٔ ورکوي- الله پاک پهٔ 26 سيپاره سُورهٔ ق آيت نمبر 18 کښې ارشاد فرمائي:

مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ اِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ ﴿١٨﴾

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: هغه د ژبې نه يوه خبره هم نهٔ اوباسي مګر دا چې يوه محافظه فرښته هغې ته تياره ناسته وي-

﴿2﴾ دا ښه خبره نهٔ ده چې د فضول خبرو نه ډکه اعمال نامه د الله پاک پهٔ دربار کښې وړاندې کړے شي- ﴿3﴾ د الله پاک پهٔ دربار کښې د ټولو مخلوقاتو پهٔ مخکښې بنده ته حکم وشي چې خپله اعمال نامه پهٔ زوره

ولوله! د قيامت خطرناکې سختيانې به مخې ته وي، انسان به بربنډ (يعنې لغړ) وي، سخت تږے به وي، د لوږې نه به يـې ملا ماتيږي، جنّت ته به د تلو نه منع کړے شوے وي او هر قسمه سکون به پهٔ هغهٔ بند کړے شوے وي، لږ غور خو اوکړئ چې د داسې تکليف پهٔ حالت کښې د فضول خبرو نه ډکه اعمال نامه لوستل به څومره د پريشانۍ کار وي! (حساب اوکړئ که چرې هره ورځ مو صرف 15 منټه هم فضول خبرې کړې وي او که د هرې مياشتې 30 ورځې فرض کړے شي نو د يوې مياشتې اوؤهٔ نيمې ګينټې شوې او د يو کال 90 ګينټې، فرض کړئ که چرې چا 50 کاله هره ورځ اوسطاً 15 منټه فضول خبرې اوکړې نو 187 ورځې او 12 ګينټې شوې يعنې د شپږو مياشتو نه زياتې، نو غور اوکړئ چې د قيامت خطرناکه ورځ پهٔ کومه کښې چې به نمر د يو ميل پهٔ فاصله وي او وور به وروي يعنې ډيره سخته ګرمي به وي، پهٔ داسې سخته ګرمۍ کښې مسلسل بے د څهٔ دمې نه د 6 مياشتو پورې څوک " عمل نامه " لوستے شي! دا خو د 50 کالو عمر پهٔ شکل کښې صرف د ورځې 15 منټه د فضول خبرو کولو حِساب دے- زمونږ خو بعضې وخت څو څو ګينټې د دوستانو سره پهٔ " فضول ګپ شپ " کښې تيرې شي، د ګناهونو نه ډکې خبرې او بدۍ د دې نه علاوه)

﴾4﴿ د قيامت پهٔ ورځ به بنده پهٔ فضول خبرو ملامته (يعنې رټلے) شي او هغه به شرمولے شي، د بنده سره به د دې هيڅ جواب نهٔ وي او هغه به د

الله پاک په مخکښې د شرم او ملامتيا نه ډوب وي- (منهاج العابدين، ص: 67)

ہر لفظ کا کس طرح حساب آہ! میں دوں گا

اللہ! زَبان کا ہو عطا قُفلِ مدینہ

(وسائلِ بخشش، ص: 93)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خاموشي زده کړئ

د حضرت سَيِّدُنا جابِر بن عبد الله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے: خاموشي زده کړئ بيا حِلم (يعني نرمي او برداشت) زده کړئ بيا عِلم زده کړئ بيا په هغې عمل زده کړئ بيا علم (وښايئ او) خور يـې کړئ-

(شعب الايمان ج: 2، ص: 288، قول نمبر: 1791)

## د عبادت شروع د خاموشۍ نه

حضرت اِمام سفيان ثورې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: "د عبادت اوّل (يعني شروع) خاموشي ده، بيا علم حاصلول، د هغې نه پس هغه يادول، بيا په هغې عمل کول او هغه خورول-" (تاريخ بغداد ج: 6، ص: 6)

## خاموشي د عبادت کُنجي ده

حضرت اِمام سُفيان ثورې رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: " ډېره خاموشي د عبادت کُنجي ده-" (الصَّمت مع موسوعة ابن ابي الدنيا ج: 7، ص: 255، قول نمبر 436)

## پينځه بهترين نصيحتونه

تابعي بزرګ حضرت اِمام مجاهد رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه بيانوي چې د (صحابي ابن صحابي) حضرت سَيِّدُنا عبد الله بن عباس رَضِیَاللهُعَنۡهما نه ما اورېدلې چې پينځه څيزونه ماته د سورلۍ د پاره د تيارو بهترينو تورو اسونو نه زيات خوښ دي:

﴿1﴾ بې فائدې خبرې مهٔ کوئ ځکه چې دا فضول دي او ما سره ستاسو د ګناهونو نه پهٔ ډکو خبرو کښې د پرېوتو وېره ده او ګټه ورې خبرې هم بې ځايه مهٔ کوئ ځکه چې ډېرې ګټه ورې خبرې کوونکې بې ځايه د ګټه ورو خبرو کولو سره پهٔ تکليف کښې کيږي۔

﴿2﴾ د حليم او بردبار(قوت برداشت لرلو والا انسان او د بې عقله او بې وقوفه ګس سره بحث مهٔ کوئ ځکه چې بردبار(د قوت برداشتلرلو والا خفه کيدےشي او ستاسو سره به پهٔ زړهٔ کښې بغض وساتي او بې وقوفه به تاسو ته د اُلټا نېغو خبرو سره تکليف در ورسوي۔

﴿3﴾ د خپل ورور ذِکر د هغهٔ نه پشې شا (هم) هُغسې کوئ څنګه ذِکر چې د هغهٔ د طرف نه د ځان د پاره خوښوئ او پهٔ هُغه خبرو کښې هغه معاف کوئ د کومو پهٔ باره کښې چې تاسو غواړئ چې هغه تاسو معاف کړي۔

﴿4﴾ د خپل ورور سره هٔغسې سلوک کوئ لکه څنګه چې تاسو غواړئ چې هغه ستاسو سره اوکړي۔

د هٔغه ګس پهٔ شان عمل کوئ د چا چې یقین وي چې پهٔ نیکئ به هغهٔ ته ښه بدله ورکولے شي او پهٔ ګناه به راګیرولے شي۔ (احیاء العلوم (اردو) ج:3، ص:344)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د خاموشئ پهٔ فضیلت د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم 4 فرامین

﴿1﴾ مَنْ صَمَتَ نَجَا یعنې څوک چې چپ پاتې شو هغه نجات (یعنې خلاصے) ومونډو۔ (ترمذي، ج:4، ص:225، حدیث:2509) **د حدیث شرح**: یعنې خاموشي د نجات [یعنې خلاصي] ذریعه ده خو ښه خبره کول، د نیکئ حکم کول، د بدو نه منع کول او ذِکر او اَذکار او د قرآن تلاوت همیشه کول، د خاموشه اوسیدو نه بهتر دي۔ (الاستذکار ج:7، ص:372) د حضرت مُناوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د شرح مطابق د حدیث شریف دا معنٰی جوړیږي: ﴿مَنْ صَمَتَ﴾ عَنِ النُّطِقِ بِالشَّرّ ﴿نَجَا﴾ یعنې "څوک چې خاموشه پاتې شو (د بدې خبرې کولو نه) هغه خلاصے ومونډو۔" (التیسیر ج:2، ص:428) ﴿2﴾ اَلصَّمْتُ سَیِّدُ الْاَخْلَاق یعنې خاموشي د اخلاقو سرداره ده۔ (الفِردوس، ج: 2، ص: 417، حدیث: 385) ﴿3﴾ اَلصَّمْتُ اَرفَعُ العِبَادَةِ یعنې خاموشي د اعلٰی درجې عبادت دے (الفردوس، ض:2، ص:417، حدیث:3849) **د حدیث شرح**: یعنې خاموشي د عبادتونو پهٔ بهترینو قِسمونو کښې ده، څکه چې

زیاتره خطاګانې د ژبې نه شروع کيږي- (سراج منير شرحِ جامعِ صغير، ج: 3، ص: 279)

﴿4﴾ اَصَّمتُ زَينٌ لِلعالِمِ وَسِترٌ لِلجاهِلِ یعنې خاموشي د عالِم د پاره ښکلا او د جاهل د پاره پرده ده- (جامعِ صغير، ص: 318، حديث: 5159)

## د 60 کالو د عبادت نه بهتر

د مدینے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مبارک دے: "په خاموشۍ قائم اوسيدل د 60 کالو د عبادت نه بهتر دي-" (شعب الايمان ج:4، ص: 245، حديث: 4953)

**د حديث شرح:** مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديث شريف معنٰی داسې بيانوي: یعنې که چرې يو ګس 60 کاله عبادت اوکړي خو زياتې خبرې هم کوي، په ښه او بدو خبرو کښې فرق نۀ کوي د هغې نه دا بهتره ده چې لږ ساعت خاموشه پاتې شي، ځکه چې په خاموشۍ کښې (د اخرت) فکر هم شو، د نفس اصلاح هم، د الله پاک په ياد کښې ډوبيدل هم، ذِکرِ خَفي (یعنې د زړۀ د ذِکر) په سمندر کښې غوپې وهل هم، مُراقَبه (یعنې د ټولو څيزونو پرېښودو سره د الله پاک په خيال کښې ډوبيدل) هم-

(مرآت، ج: 6، ص: 361)

## د نیکۍ خبرې کوئ يا چپ اوسېږئ

کاش چې د بُخاري شريف دا حديث شريف زمونږ په ذهن او دماغو کښې سم کښېني، په کوم کښې چې دا هم دي: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ


فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْلِيَصْمُتْ " څوک چې په الله او په قيامت ايمان لرې هغۀ له پکار دي چې ښې خبرې کوي يا چپ اوسېږي"- (بخاري، ج:4، ص:105، حديث:6018)

## خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوږدې خاموشۍ والا وو

كَانَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰه عليه واٰلِهٖ وسلّم طَوِيْلَ الصَّمْت يعنې رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوږدې خاموشۍ والا وو- (شرحُ السُّنة، ج:7، ص:45، حديث:3589) حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديث شريف معنٰی بيانوي او فرمائي: د خاموشۍ نه مراد دے د دنيا د خبرو نه خاموشي ده ګنې د حضورِ اقدس صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ژبه مبارکه به د الله پاک په ذِکر هر وخت لَـمده وه، د خلقو سره به يې بے ضرورته خبرې نۀ کولې- دا ذِکر دے د جائزو خبرو اترو، ناجائزه خبرې خو يې ټول عمر په ژبه مبارکه هډو راغلې نۀ دي- دروغ، غيبت، چغلي وغيره خو يې په ټول عمر کښې په ژبه مبارکه نۀ ده راغلې- حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سراسر حق دے بيا نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته باطِل څنګه رسېدے شي- (مرآت، ج:8، ص:81)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راروانې هفتې رساله




فيضانِ مدينه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي.

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net